# کله چې تاسو اضافي مواد بیاترلاسه کوئ، ټول ګټونکي کیږي!

## هر ځل چې تاسو یوه بسته یا ورځپاڼه د بیا ترلاسه کولو په موخه اېږدئ، یو لوی څه رامنځته کیږي.

کولای شو زوړ سرپوښ د موټر د باډۍ لپاره په فلزي تخته باندې بدل کړو. د وینځلو لپاره د کاریدونکو موادو خالي کڅوړه د بیلګې په توګه د پیتزا په نوي کارتن باندې بدلیږي. د تیرې ورځې ورځپاڼه زموږ سبا ورځ رامنځته کوي.
د طبعت له لومړنیو موادو څخه بیا استفاده کیږي او تر زیاتې کچې پورې د انرژۍ په مصرف کې سپما ترسره کیږي. په دې ډول موږ ټول کولای شو چې د ژوند کولو لپاره د غوره نړۍ په رامنځته کولو کې مرسته وکړو.

## اضافي موادو بیا ترلاسه کول

د خوراکي توکو ضایعات د بیوګاز او کیمیاوي سرې په توګه بیرته بیاترلاسه کیږي و پاتې ضایعات د برښنا او تودخې د تولید لپاره کارول کیږي. ټول راټول شوي کارتونه او ورځپاڼې د بیاترلاسه کولو په موخه استول کیږي تر څو کارتنونه او نوی محصول ترې ترلاسه شي. پلاستیکي بکسې په خامو موادو باندې اړول کیږي او د بیلګې په توګه له هغوی څخه د توکو د لیږد کڅوړې او سطلونه جوړیږي. د شیشو او کاغذ له بستو څخه معمولاً بیرته بستې جوړیږي. کیدای شي له اوسپنیزو بستو څخه رینګ جوړ شي او د ډیرو لوستونکو لرونکې ورځپاڼې د پخلنځي په کاغذ یا نوې ورځپانه باندې بدلې شي.

## چاپیریالي خونې او د بیا ترلاسه کولو مرکزونه

د خوراکي توکو ضایعات او پاتې خځلې ستاسو د اوسېدو په سیمه کې په ځانګړو سطلونو کې اچول کیږي، چې د بیلګې په توګه د بیا ترلاسه کولو خونې یادولی شو. که چیرې تاسو نشئ کولای بستې یا ورځپاڼې په هغه ځای کې واچوئ چې تاسو ژوند کوئ، دوی باید د پاملرنې پرته د بیا ترلاسه کولو مرکزونو ته یوسئ. هلته د هر ډول بستو لپاره لوښې شته دي: پلاستیک، کاغذ، اوسپنه او ښیښه او ځینې وخت ورځپاڼې هم پکې وي. هغه لویې بستې چې ستاسو د اوسېدو په سیمه کې په اینودل شویو سطلونو کې نه ځاییږي، کولای شئ د بیا ترلاسه کولو مرکزونو ته یې یوسئ او هلته یې واچوئ.

## لا زیات معلومات

په www.sopor.nu پته کې تاسو کولای شئ ځان ته څیرمه د اضافي موادو د تجزیې مرکز وموم‌ئ او پوه شئ چې څه وخت خالي او پاک دی. همداراز دلته تاسو کولای شئ د تنظیم کولو لارښود، د اضافي موادو د بیرته ترلاسه کولو اړوند ویډیوګانې، لارښوونې او د سرچینو د جلا کولو په اړه سپارښتنې ومومئ

که چیرې تاسو د کثافاتو او اضافي موادو د بیا ترلاسه کولو په اړه پوښتنې لرئ، کولای شئ د خپلې ښاروالۍ سره اړیکه ونیسئ. همداراز دوی به وکولای شي تاسو ته د لوی حجم لرونکو کثافاتو، جوړښت، برښنایي او نورو کثافاتو په اړه معلومات درکړي.

# لا زیات تنظیمول!

**د دې لپاره چې اضافي مواد د امکان تر کچې بیا ترلاسه شي، موږ ستاسو مرستې ته اړتیا لرو.**

- بیلابیل کثافات مه سره ګډوئ.
- د خوړو ضایعات باید یوازې په هغو کڅوړو کې واچول شي چې د هغې لپاره د لاسرسي وړ دي.
- پاتې کثافات باید په داسې کڅوړو کې واچول شي چې په سم ډول یو له بل سره تړلې وي.
- دا بستې باید په بشپړه توګه خالي او په سم ډول وچې شي. که چیرې له تاسو سره داسې بستې وي چې له څو ډوله موادو څخه جوړې شوې وي، د هغو موادو پر بنسټ یې تنظیم کړئ چې ستاسو په ګومان زیات وزن لري.

### د خوراکي موادو ضایعات

✓ بقايا الفواكه والخضروات، أكياس الشاي، حثالة القهوة، قشر البيض، عظام اللحم وما شابه ذلك. كما يمكن وضع بعض من ورق المطبخ فيها.

✗ البلاستيك، السنوس، السجائر، الورد والشموع لا تعتبر فضلات طعام.

### پلاستیکي بستې

✓ بوتلونه، قوطي، پلاستیکي کڅوړې، د بیا ځلې ډکولو بستې، پلاستیکي ټیوبونه، د تراش شویو موادو کڅوړې او پلي استرین. د پختې لرګي لرې کړئ. او سرپوښونه خپلې پلاستیکي کڅوړې د کثافاتو په سلطل کې خالي کړئ تر څو یو له بل څخه په جلا ځای کې واچول شي. هغه وروسته د اضافي موادو د بیا ترلاسه کولو پروسه آسانه کوي.

✗ هغه پلاستیکي محصولات چې بسته بندي شوي نه وي د لوبو یا کورنیو کثافاتو په توګه پاتې کیږي لکه فرنیچرونه  او د لوبو وسایل. بیرته ورکول کیدونکي بوتلونه د ضمانت په بدل کې بیرته پلورنځي ته ورکول کیږي.

### د اوسپنې بستې

✓ د حلبي قوطي، د سپرې کانو تش قوطي، پاپیونه، سرپوښونه، سرونه او د رنګ تش قوطي. تیزې څوکې لرونکي سرپوښونه باید د حلبي په قوطي باندې ورکاره شي.

✗ رنګ او چسپ لرونکي قوطي د خطرناکو کثافاتو په توګه پاتې کیږي. اوسپنیز ضایعات، د نلدوانی توټې، هر کاره، او نور محصولات چې د بستې په ډول نه دي، د لوی حجم لرونکو یا کورنیو ضایعاتو په توګه پرېښودل کیږي.
بیرته ورکول کیدونکي قوطي د ضمانت په بدل کې بیرته پلورنځي ته ورکول کیږي.

### کاغذي بستې

✓ مکروني، د شیدو او د میوې د جوس بستې، کاغذي کڅوړې، بوټ دانې، د تشناب کاغذ او خړ رنګ لرونکي کارتنونه. دوی هموار او یو ځای کړئ. کوچنې بستې په لویو بستو کې ځای پر ځای کړئ تر څو ځای پاتې شي.

✗ پاکټونه په کورنیو یا د سوځېدو وړ ضایعاتو کې اچول کیږي. ورځپاڼې، خبرتیاوې او د هغې په ډول شیان د مجلو په کارتن کې اچول کیږي.

### ورځپاڼې

✓ ورځنۍ او اونیزې ورځپاڼې، مجلې، کټلوګونه، بروشرونه، د خبرتیاوو پاڼې، جیبي کتابونه او د لیکلو/دیزاین کاغذونه. پلاستیکي کڅوړې لرې کړئ او سټیکرونه پرې ونښلوئ.

✗ پاکټونه او کلک پوښونه په کورنیو یا د سوځېدو وړ ضایعاتو کې اچول کیږي. کاغذي کڅوړې، کارتنونه او په دې ډول شیان د کاغذي کڅوړو لپاره په ځانګړي کارتن کې اچول کیږي.

### د بې رنګه ښیښو بستې

✓ رنګ لرونکي یا بې رنګه بوتلونه او ښیښې. سرپوښ، او پختې لرګي لرې کړئ او هغه د اړونده موادو پربنسټ تنظیم کړئ. رنګ لرونکي او بې رنګه ښیښه یې بستې په سمو کارتونو کې ځای پر ځای کړئ.

✗ بیرته ورکول کیدونکي بوتلونه د ضمانت په بدل کې بیرته پلورنځي ته ورکول کیږي. چینې، سرامیکي لوښي او نور محصولات چې نه بسته بندي کیږي، د کورنیو یا زیات حجم لرونکو ضایعاتو په توګه پاتې کیږي. د فلورسنټ څراغونه او ټیوبونه معمولاً د ښاروالۍ د بیا ترلاسه کولو په مرکزونو کې اچول کیږي.

### پاتې ضایعات

✓ ډایپرونه، پاکټونه، د لوښو وینځلو جامې، د نصوارو پاکټونه، مسواک او د بورس وېښتان.

✗ هغه شیان چې د بیرته ترلاسه کولو وړ نه دي باید په عادي کثافت دانیو کې واچول شي! خطرناک او برېښنايي ضایعات باید د کثافاتو په سطل کې وانه چول شي، باید د بیاترلاسه کولو مرکزونو ته یوړل شي.

مننه!